سلطان جان کلیوال

۲۰۱۹/۱۲/۰۱

# د نر ژړا

د نر ژړا دومره اسانه، نه ده      نر په توفان کی هم ژړا نه کوی

که غرونه یو بل سره وجنګیږی      که وچه بحر شی، بحرونه وچ شی

که هوا توله سره لمبه لمبه شی      که د آسمان ستور تکر شی سره

خو نر به چیری هم ژړا و نه کړی      نه به یی سترګي شی لمدی په اوښکو

**** **** ****

یخ کی به وچ شی، و به سوزی اورکی      ټوټه ټوټه، زره زره، به شی نر

د سر ماغزه به یی پښو ته راشی      په دی دنیا کی به محشر و وینی

د سترګ ګاټي به یی اوبه اوبه شی      له پستي ژبې به را ځوړند هم شی

خو نر به کله هم ، ژړا ونه کا      ژړا د نر دومره، آسانه، نه ده

**** **** ****

خو که غرور چیری د نر مات شی      که یی غیرت ته صدمه و رسي

که په حریم یی څه تیری وشي      که نارینتوب ته یی ضرر پیښ شي

که یی حیا ته سپک نظر وشي      که په ملکیت یی بل حاکم جوړ شی

نو نر به ژاړی تر هغی به ژاړی      چی یي په اوښکو کی جهان ډوب شی

د دوزخو اورونه مړه شی پکي      او جنتونه هم ساړه ساړه شي



ارسال مقالات: info@arianafghanistan.com و یا spineghar@gmail.com

نومبر/۲۰۱۹/۲۷

ایجکس ـ تورنتو ـ کاناډا

**** **** ****

یادونه:

که چیرې ګران لوستونکی و غواړی چې د دی شاعر او لیکوال نوری لیکنی او سرودونو هم ولولی، نو کولای سی چی، پر انځور باندی د «کلیک» په اجرا کولو سره د لیکونکی مقالی او مطالب د «آرشیف» فهرست ته، لار ښودنه تر لاسه کړی!

د نـــر ژړا

S_klewal_de_nar_galaa.pdf